

# هربان او ببنونكي خداى په سپيڅلي نامه؛

## ستاسو د الوتني معلومات......

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د الوتني معلومات

- د ټکټ نوعه: يو اړخيز ټکټ
- د ټکټ بيه: بالکل مفت (تاييد شوی ټکټ)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مسافر په اړه معلومات:

- نوم: یو د آدم علیه السلام له اولادې څخه
- سرچینه یا اصل: له خاورې څخه جوړ
- پته: د ځمکې کره یا سیاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د سفر شرطونه او څرنګوالي:

- روانېدنه : له ځمکني ژوند څخه
- موخه یا تلل: تل پاییدونکي یا ابدي ژوند ته
- پر لاره تم کېدل: هوټل یا مېلمستون (د ځمکې ۲ متره لاندې، د یو کس لپاره)
- د الوتنې موده: له څو ثانیو څخه تر څو میلیونو کلونو پورې

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د روانيدني وخت:

- د مړينې وخت: دقيق وخت ندی معلوم (مګر کيدای شي له تمې څخه مخکې پيښ شي.)
- د رسېدنې وخت: د قضاوت يا قيامت ورځ(په مهالويش کې معلومه شوی نده)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پوښتنو په اړه معلومات:

- میلمستون(قبر) ته د رسبدو په مهال: مصلح (رشوت نه اخیستونکي) حساب کوونکی – دوه ملایکي: منکر او نکیر، به ډیر زر پوښتنې پیل کړي.
- دري مهمې پوښتنې به وپوښتي:
  ۱. ستا څښتن څوک دی؟
- ۲- ستا پیغمبر څوک دی؟
- ۳- ستا دین یا مذهب څه دی؟
- پوښتنې به ستا د دنیوي ژوند په اړه دوام وکړي. د لا زیاتو معلوماتو لپاره د قرآن کریم د ابراهیم سورت ۲۷ آیت وګورئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سامان یا پيټي:

۱- سره له دې چي په يو وخت کې په يو الوتنه کې يواځې يو کس الوتنه کوي، بيا هم د هغه پيټي د اندازې په اړه چي تاسو يې له ځان سره وړئ يو څه مخنيوی او محدوديتونه شته.

۲- له ځان سره يواځې ۵ متره سپين ټوکر يا رخت وړلای شئ.

۳- د دنيايي ژوند اړوند دهر راز سامان وړل په کلکه توګه منعه دي.

۴- واقعی سامان د ښو کړنو، د ښو او حياناکو اخلاقو او هغه ښه وخت چې په دعوت يا د خلکو اسلام ته رابللو کې تېر شوي وي څخه عبارت دي، چي تاسو کولای شئ له ځان سره نوموړی سامان يوسئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ضروري لاربنووني:

- ټول مسافر باید پدي وپوهیږي چي د الوتني تکټ نه بدلیدلي شي او نه ختمیدلي.
- دغه سفر  د هر ډول ملیتونو، مذهبونو او هر ډول عمرلرونکو خلکو لپاره اړین دي.
- ځنډیدل د منلو وړ ندي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د سفر ریس یا مشر

د مرګ پربنتي به د مرګ د نیټي په اړه هیڅ داسي مصلحت ونکړي ترڅو د تللو نیټه او یا وخت تغیر کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لا زياتو معلوماتو لپاره:

- لاربښووني ولولئ. هغه لاربښووني چي تاسو کولای شئ په قرآن ، نبوي ارشاداتو او يا هم د يو ديني عالم څخه ترلاسه کړئ، مهرباني وکړئ دا کار زر تر زره وکړئ.
- په ياد ولرئ د سفر په دوران کې تاسو ته د اکسيجن کڅوړه نه درکول کيږي ترڅو خپله ساه پرې وساتئ او دا ځکه چې له الوتنې دمخه به مو ساه واخيستل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اضافي لارښووني:

۱- تاسو اړ نه یاست چي د سفر ضروري سامان لکه پاسپورټ، ټکټ او یا نور څه ولرئ.

چه د یو آرامه الوتنې لرونکي اوسئ نو:

۲- د ورځې پنځه وخته لمونځ کوه

۳- د قرآن تلاوت کوه

۴- تر زیاتي اندازې او قدرت د سنتو پیروي کوه او د خپلي الوتنې لپاره اماده اوسه، ځکه چي ستا الوتنه په هره دقیقه او  وخت کي شونې ده (کیدای شي همدا لحظه هم).

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اخريني خبرداری

- اخري موخه يا هدف په تا پورې اړه لري! نو مهرباني وکړه او خپل ارزښتناک وخت په دې نړۍ کې بې ځایه مه تېروه.

- په یاد ولره، چې ته یواځې یو اړخیز ټکټ لرې یا جنت ته او یا هم دوزخ ته!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# آیا تاسو چمتو یاست؟

او که چمتو نه یاست، نو آیا په دې اړه د کوم مثبت تغیر فکر لرئ؟

له دې لامله د قرآن کریم او نبوي ارشاداتو لوستل او عملي کول په پوره توجه سره شروع کړئ او نوموړي تعقیب کړئ تر څو جنت ته ورسیږئ.

ان شاءالله، د الله په مهربانئ به، مونږ ټول د جنت په باغونو کې سره وینو.

پیغمبر اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلي: له ما څخه و نورو ته علم ورسوئ اګر که د یو آیت په اندازه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**